Office of the Deputy PM for Economic Affairs

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۱۹مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۱مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۵/۲۲



په افغانستان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د ټاپي پروژې پرمختګ؛ د انرژۍ، ترانزیټ او سیمه‌ییز اقتصادي اتصال فرصت

۲- د ګلبهار سیمنټو فابریکه؛ د کورني تولید د پیاوړتیا پر لور نوی ګام

۳- په هرات کې معیاري لابراتوار؛ د کیفیت لوړولو او د افغاني تولیداتو د بازار پراختیا له پاره مهم ګام

# د تاپي پروژې پرمختګ؛ د انرژۍ، ترانزیټ او سیمه‌ییز اقتصادي اتصال فرصت



په افغانستان کې د تاپي ګازو نللیکې د عملي چارو چټکتیا د هېواد د انرژۍ اړتیاوو، سیمه‌ییز اتصال او اقتصادي همکاریو د پراختیا له پاره مهم فرصت رامنځته کوي. تر اوسه په افغانستان کې د تاپي پروژې ۱۱۶ کیلومتره پایپ غځول او ویلډینګ شوی، ۱۳۵ کیلومتره مسیر د پایپ غځولو له پاره چمتو شوی او ۳۸ کیلومتره پایپ‌لاین تر ځمکې لاندې ښخ شوی دی. د پلان له مخې، د پایپ غځولو چارې به د ۲۰۲۶ کال تر پایه تر هرات ښار پورې بشپړې شي. د تاپي پروژې اقتصادي اهمیت یوازې د ګازو په انتقال کې نه خلاصه کېږي. دا پروژه هېواد د صنعتي او اقتصادي فعالیتونو د پراختیا له پاره د انرژۍ د لاسرسي زمینه برابروي. په هرات کې د ګازو د وېش او مصرف له پاره د شبکې جوړول هم د دې پروژې له مهمو اړوندو برخو څخه دي. له بلې خوا، تاپي د افغانستان د سیمه‌ییز اتصال د پراختیا له مهمو پروژو څخه ده. د دې پروژې ترڅنګ د سوداګرۍ، ترانزیټ، اوسپنې پټلۍ، برېښنا او مخابراتو په برخو کې د افغانستان او ترکمنستان د همکاریو پراخول کولی شي د هېواد اقتصادي موقعیت لا پیاوړی کړي. د ترکمنستان په ترکمن‌باشي بندرکې د افغان سوداګریزو او ترانزیتي مالونو له پاره د اسانتیاوو برابرول او د لاجوردو مسیر د بیا فعالولو هڅې هم د دې اقتصادي اتصال برخه جوړوي. د تاپي ترڅنګ د تاپ، نوري فایبر او اوسپنې پټلۍ پروژو د تعقیب له پاره د ګډې تخنیکي کمېټې جوړېدل د دې ښکارندویي کوي چې دواړه لوري غواړي د اقتصادي پروژو د عملي کېدو بهیر منظم او چټک کړي. د دغو پروژو په بشپړېدو سره افغانستان کولی شي له خپل جغرافیوي موقعیت څخه د انرژۍ، ترانزیټ او سوداګرۍ په برخو کې لا زیاته اقتصادي استفاده وکړي. په پایله کې، تاپي د افغانستان له پاره یوازې د ګازو د انتقال پروژه نه، بلکې د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو، انرژۍ، ترانزیټ او اتصال د پراختیا یو مهم محور ګڼل کېږي.

# د ګلبهار سیمنټو فابریکه؛ د کورني تولید د پیاوړتیا پر لور نوی ګام

په هرات ولایت کې د ګلبهار سیمنټو د نوي تولیدي فابریکې د بنسټ ډبرې ایښودل د هېواد د صنعتي ودې او د ساختماني موادو د کورني تولید د پراختیا په برخه کې مهم پرمختګ دی. د سیمنټو د تولید ظرفیت لوړول کولی شي د وارداتو د کمېدو او د کورني تولید د زیاتېدو پراختیا له پاره زمینه برابره کړي. سیمنټ د ودانیزو او زیربنایي پروژو له مهمو اساسي توکو څخه دی. د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو له پاره د دې توکي تولید په هېواد کې د تولید، سوداګرۍ او پانګونې د فعالیتونو د پراختیا سبب کېږي. د وارداتي سیمنټو د اړتیا کمېدل کولی شي د هېواد د بهرنیو



اسـعارو د وتلـو کچـه هـم راکمه کـړي. د فابریکـې جوړېـدل بـه د مسـتقیمو کاري فرصتونو ترڅنګ د سـیمنټو له تولید سره تړلو نورو اقتصادي فعالیتونو ته هم زمینه برابره کړي. د افغانستان له طبیعي زېرمو د اقتصـادي اسـتفادې لـه لارې د تولیـدي فابریکـو جـوړول د اقتصـادي ودې لامـل کېږي. د افغانستان اسلامي امارت په هېـواد کـې د پانګونـې لـه پاره مناسب چاپېریال رامنځته کړی دی او وروستیو پنځو کلونو کـې د میلیاردونو افغانیو په ارزښـت کورنۍ او بهرنۍ پانګونه جذب شوې ده.

## په هرات کې معیاري لابراتوار ؛ د کیفیت لوړولو او د افغاني تولیداتو د بازار پراختیا له پاره مهم ګام

په هرات ولایت کې د سویل‌لویدیځ زون په کچـه د خوراکـي توکـو، درملـو او صحي محصولاتـو د کیفیـت ارزونـې معیـاري لابراتوار ګټې اخیستنې ته سپارل د هېواد د سـوداګرۍ او تولیـد پـه برخـه کـې د کیفیـت د معیارونـو د پیاوړتیا له پاره مهم پرمختګ دی. دغه لابراتوار به د وارداتي او کورنیـو محصولاتو د کیفیت ارزونې له لارې د بازار د تنظیم، سـالمې سـوداګرۍ او د کورنیو تولیداتو د اعتبار په لوړولو کې مهم رول ولري. افغانسـتان هـر کال د خوراکي توکو، درملو او بېلابېلو صحي محصولاتو یـوه برخه له بهرنیـو هېوادونو واردوي. د دغو محصولاتـو د کیفیت معیـاري ارزونه کولی شـي د غیرمعیـاري او تقلبي توکو د واردېـدو مخـه ونیسـي او په بـازار کې د سـالم رقابت زمینه برابره کـړي. د لابراتوار فعالیـت د کورنیـو تولیدوونکو له پاره هم اقتصـادي اهمیـت لري. کلـه چـې کورني محصولات د معیاري ازموینو له لارې خپل کیفیـت ثابـت کړي، پـه کورني بـازار کې د مصرفوونکـو بـاور پـرې زیاتېـږي او د صادراتـو له پـاره هـم د نړیوالـو بازارونو ارتیاوې پوره کولی شي. دا چاره د افغاني تولیداتـو د سـیالۍ وړتیا لـوړوي او د صادراتو د پراختیا له پاره زمینه برابروي. په بازار کې د غیرمعیاري محصولاتو کمېدل د قانونـي او معیـاري تولیدوونکـو ونـډه زیاتـوي. د دغـه لابراتـوار فعالیـت پـه اوږدمهال کې د کورنـي تولید د پیاوړتیا، د وارداتي محصولاتـو د کیفیت د کنټرول، د صادراتـو د پراختیـا او د افغانسـتان د سوداګریزو محصولاتو د اعتبار لوړولو له پاره مهم بنسټ جوړولی شي.

